
ليکوال: سلام خان نیټه ۳۰-۱۲-۲۰۱۰

# دوې نوې نقشې په افغانستان کې د نا امنۍ زیاتوالی څرګندوي




وال سټریټ ژورنال ، چې د افغانستان د امنيتي وضعيت په اړه د ملګرو ملتو د ۲۰۱۰ کال دوې بېلابېلې نقشې لاسته ورغلي، ليکي چې د افغانستان په اړه ملګروملتو امنيتي ارزونې د باراک اوباما دخوشبينۍخلاف دي. ملګرو ملتو په هغو دوو نقشوکې چې یوه يې د۲۰۱۰ کال په پيل کې او بله يې د همدې کال په پای کې جوړې کړې، د خپلوکارکوونکو لپاره د افغانستان سيمې او ولايتونه په څلورو رنګونو نښه کړي: د ډېر لوړ خطر سيمه، د لوړ خطر سيمه، د منځني خطر سيمه او د ټيټ خطر سيمه. په هغه نقشه کې چې د ۲۰۱۰ کال په پای کې جوړه شوې، په څرګنده توګه د لوړ خطر سيمې زياتې شوي دي
د پنتاګون هغه رپوټ چې د افغانستان د امنيتي وضعيت په اړه کانګرس ته وړاندې شوی ، هم ورته وضعيت انځوروي، دغه رپوټ وايي چې له ۲۰۰۹ کال راهيسې په افغانستان کې بريدونه ۷۰ په سلوکې زيات شوي او د ۲۰۰۷ کال په پرتله درې سوه په سلوکې زيات شوي دي . خو د نوې ستراتيژۍ د بيا کتنې په ترڅ کې د هغې ارزونې له مخې چې د باراک اوباما ټيم د افغانستان په وړاندې کړې، نړيوالو ځواکونو په افغانستان کې ښه پرمختګونه کړي اوپه یوشمېرسيموکې يې امنيت راوستی دی.
وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه په یوه راپور کې ليکي: په افغانستان کې د ستراتېژۍ د پرمختګ په اړه د سپينې ماڼۍ د ادعاګانو خلاف، د ملګرو ملتونو له پټو نقشو داسې ښکاري، چې د افغانستان په ځينو برخو کې امنيتي شرايط تر پخوا ډېر نازک شوي دي. د فرانسې خبري اژانس د خبر له مخې، دغې امريکايي ورځپاڼې د ملګرو ملتونو دوه نقشې له يو بل سره پرتله کړې دي، چې په لومړۍ نقشه کې د روان کال د لومړيو مياشتو، او په دوهمه هغه کې يې ددې کال د وروستيو مياشتو امنيتي حالت ښکاري. د وال سټریټ ژورنال د راپور له مخې په داسې حال کې چې په جنوب کې امنيتي حالت همداسې له خطرونو ډک په خپل حال پاتې دی، د شمال او ختيځ په ۱٦ سيمو کې امنيتي شرايط نور هم خراب شوي دي. د بارک اوباما له هغې پرېکړې، چې تر ۲۰۱٤ کال پورې يې افغان امنيتي ځواکونو ته د امنيتي چارو د سپارلو لپاره دوضعې اماده کولو په موخه ۳۰ زره نور سرتيري دې هېواد ته ولېږل، پوره يو کال تېرېږي. ددې مياشتې په لومړيو کې هم اوباما د افغانستان د جنګ په اړه، د خپلې ستراتېژۍ په بيا کتنه کې دغه ستراتېژي سمه وبلله مګر ګواښ يې وکړ، چې دغه پرمختګونه نازک دي. وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې د اکتوبر مياشتې په نقشه کې په ګوته کړې، چې د شمال او ختيځ په ۱٦ سيمو کې، چې امنيتي حالت يې مخکې ښه وو اوس له خطرونو ډک دی. دغې سيمې په بادغيس، سرپل، بلخ، پروان، بغلان، سمنګان، فارياب، لغمان او تخار ولايتونو کې په ګوته شوې دي. دغه ورځپاڼه وړاندې ليکي: يوازې دوې سيمې په شمال کې کندوز او په لويديځ کې هرات هغه سيمې دي، چې امنيتي شرايط يې له مخکې نه ښه شوي دي. څېړونکي وايي په داسې حال کې چې د وسله والو طالبانو ډېری مرکزونه په جنوب کې دي، په شمال کې هم امنيتي حالت ورځ تر بلې خرابېږي. دغه امريکايي ورځپاڼه زياتوي ملګري ملتونه له دغو نقشو د خطرونو د ارزولو او د نوو طرحو د وړاندې کولو لپاره ګټه اخلي
د امريکا يو حقيقت موندونکی پلاوی چې د تيرو شلو ورځو راهيسې په افغانستان کې دی په دغه هيواد کې د امريکا د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

ستراتيژۍ وروستۍ بيا کتنه د افغانانو د غوښتني پر خلاف بولي
دغه شپږ کسيز پلاوی چې په باميانو ولايت کې د افغان رضاکارو ځوانانو په نوم له بنسټ سره يې يو ځای د دغې بياکتنې په اړه په څو ولايتونو کې د خلکو د بيلابيلوبرخو نظرونه اخيستي دي، په افغانستان کې د جګړې دوام د ستونزې د حل لاره نه بولي،په دی پلاوی کی پخوانی ډيپلوماتان،دفوځ پخوانی لوړ مرتبه افسران او دبشر دحقوقو فعالان ګډون لري
د پلاوي يوې غړې او په افغانستان کې د امريکا د سفارت يوې پخوانۍ کارکوونکې ميرمن ان رايت د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبريالانو ته وويل، چې په ځينو هيوادونو کې د امرکايي ځواکونو چلند د امريکا د خلکو د انديښنې سبب شوی دی
"د دارنګه ستونزې د حل لپاره د پوځي ځواک کارول هغه څه دي، چې موږ امريکايان يې هم په اړه انديښمن يو. موږ انديښمن يو چې زموږ حکومت زموږ پوځي ځواکونو ته اجازه ورکوي، چې په دې هيوادونو وحشي چلند وکړي موږ وايو چې د افغان ملکي خلکو وژنه له سره د منلو وړ نه ده او د نړيوالو جنايتي فعاليتونو د له منځه وړلو لپاره چې طالبان يې هم کوي، پوځی عمليات ښه لاره نه ده ".
خو د افغانستان د يو شمير خلکو نظريات چې امريکايي حقيقت موندونکي پلاوي راټول کړي دي، وايي چې په افغانستان کې نه يوازې پرمختګ نه دی شوی بلکې په ځينو برخو کې ستونزې ډيرې شوي دي
د دې پلاوي په باور په افغانستان کې ۴۲ فيصده خلک له شديد فقر سره مخ دي او شاوخوا پنځوس فيصده يې د څښاک روغتيايي اوبو ته لاسرسی نه لري
په افغانستان کې که له يوې خوا د جګړې د برياليتوب شونتيا کمه ښکاري، بل خوا په جګړې کې د ښکيلو خواو ترمنځ هم جوړجاړی ستونزمن بريښي
نړيواله ټولنه ټينګار کوي، چې وسلوالو مخالفين دې له القاعده لاس واخلي او د افغانستان اساسي قانون دې ومني او وسلوالو مخالفين بيا وايي، چې تر هغو به خبرې نه کوي چې بهرني ځواکونه له افغانستان نه وتلي نه وي
خو يو شمير خلک په دواړو خواو ټينګار کوي چې د خبرو لپاره دې له خپلو مخکينيو شرطونو لاس واخلي، هغه واړنديز چې تراوسه پورې ورته د ښکيلو خواوو ځواب نه دی پيداکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ